## <u>مطبوعاتي اعلاميه</u>

## خدایه شکر، اسماعیل الوحواح (ابو انس) د ظالمو حکامو له بنده ازاد شو

## (ژباړه)

اسماعیل الوحواح (ابو انس) له یوه کال بند وروسته نن د اردون له یوه زندان نه ازاد شو، د نوموړي د بندي کېدو لامل دا و چې په خپله فیسبوکپاڼه کې یې د اردن رژیم د بحران په اړه تبصره خپره کړې وه.

سره له دې چې د ابو انس په ازادېدو خوښ یو، دا نه شو هېرولای چې په دغه قضیه کې یوازینی مجرم د اردن دولت دی.

تاریخ او همداراز الله سبحانه و تعالی به د ابو انس د محکومیت دا سپکاوی په یاد ولري، هغه نور تورونه او محکومیتونه خو پرېږده.

ابو انس لکه د حزب التحریر د نورو غړو غوندې د مسلمانانو د وضعیت د ښه والي لپاره له خودخواهۍ پرته نه ستړې کېدونکې مبارزه کوي. د اردن دولت په دغې قضیه کې ثابته کړه – که نورو ثبوتونو ته اړتیا وه- چې دوی هغه چا ته د مجرم په سترګه ګوري چې اسلامي ژوند غواړي او د هغو کسانو مخالف دي چې له امت سره خواخوږی لري.

د حزب التحریر کار او د شته خاینو نظامونو د پرځولو لپاره د امت غوښتنه به دوام لري، د دې لپاره مهمه نه ده چې څومره نور کسان به بندي کېږي، ځکه چې د مومنانو په زړونو کې د الله سبحانه و تعالی، پیغمبر صلي الله علیه وسلم او د هغه د شریعت مینه پرته ده. دا یوازې د وخت موضوع ده، هغه وخت چې الله سبحانه و تعالی خپلو مخلصو بندګانو ته نصرت ورکړي، هغه ورځ چې مسلمانان په ډېره لېوالتیا ورته په تمه دي او دښمنان یې له وېرې لړزېږي، دوی پوهېږي چې فساد به یې ختم شي او ځای به یې د اسلام رېښتینی عدالت ونیسي.

د ابو انس د ازادېدو د مبارکۍ تر څنګ، هغه بې شمېره کسان نه شو هېرولای چې په بې عدالتۍ د ظالمو نظامونو لخوا په ختیځ او لوېدیځ کې بندیان دي. له موکې نه په ګټه اخیستنې ټول امت ته د دوی د دغه لوی مسولیت یادونه

کوو چې د هغو کسانو ملاتړ وکړي او بلاخره يې ازاد کړي چې په بې عدالتۍ او بې ګناه بنديان دي. د زړه له اخلاصه د الله سبحانه و تعالی شکر ادا کوو او ستاينه يې کوو.

**حزب التحرير- اسټرليا مطبوعاتي دفتر**

۱۴۴۰هـ . ق کال د شعبان ۱۹مه

۲۰۱۹م کال، پنجشنبه، د اپرېل ۲۵مه

ګڼه: ۰۴/۱۴۴۰